امین بسمل
۲۱ فبروری ۲۰۱۳

# پالنګ ته

یوځوک دی هرسهار یي وینوم په بسم الله
ګلونه درخسار یي ښکولوم په بسم الله
راپورته شي دخدای په نوم دخدای عبادت وکړي
دښي ورځي دعا ورته کوم په بسم الله
خوب وینم شاپیریان یي راته راوړي سره ډولۍکي
یاسین دسپین جبین یي مچوم په بسم الله
اوس نه ښبنمه ترخي اوبه خمارمي نه ماتیږي
خوږي لبي میګوني یي زبېښم په بسم الله
په صبح ودم تېر تاو وي ملایکي داسمان
خواره واره زلفان یي سموم په بسم الله
اخپرخدای مهربان شو صنم هم مینه اظهارکړه
زه ځکه سراومال تېرجاروم په بسم الله
ستومان وي جانان سر کېږدي په غېږ کي راویده شي
ورو ورو یي ترسهاره زنګوم په بسم الله
هم جان دی هم جانان دی دزړه کورمي پرې ودان دی
ډېرګران دی په ما ګران مي نازوم په بسم الله
ښایسته دی لکه ګل دنوبهارسخت پرې وېرېږم
اسفند خو ورته ځکه دودوم په بسم الله
بسمله دزړه سره که پاک رب مي په نصیب کړي
پالنګ ته به دي پاس راخېژوم په بسم الله